دا د حق خبره د پيرى لخوا په پټه نيول کيږي او د چرګ د کړارې په څير يې د خپل بادار په غور کې اچوي، نو هغه ورسره بيا سل دروغ ويناوې ګډې کړي

له عايشې رضي الله عنها څخه روايت دى وايي چې: خلکو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د غيب ويونکو په اړه پوښتنه وکړه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: (هغوى هيڅ ندي) هغوى وويل: اې د الله جل جلاله رسوله، هغوى کله د يو څه په اړه خبرې کوي چې وروسته حقيقت وي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:" دا د حق خبره د پيرى لخوا په پټه نيول کيږي او د چرګ د کړارې په څير يې د خپل بادار په غور کې اچوي، نو هغه ورسره بيا سل دروغ ويناوې ګډې کړي".

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د هغو خلکو په اړه پوښتنه وشوه چې په راتلونکي کې د غيبو په اړه وړاندوينه کوي، نو هغه وفرمايل: پروا يې مه ساتئ، او خبرې يې مه اخلئ، او د هغوى چارې دې تاسو اندېښمن نه کړي. نو هغوى وويل: د دوى خبره کله کله له حقيقت سره مطابقت لري، لکه څنګه چې دوى په فلان فلان ورځ کې د يوې غيبي پيښې په اړه خبر ورکوي، نو د دوى له وينا سره سم واقع کيږي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: پيريان چې د اسمان له خبرونو څخه څه واوري هغه غلا کړي، بيا له غيب ويونکو څخه خپلو بادارانو ته د هغه څه په اړه خبر ورکړي چې اوريدلي يې دي، غيب ويونکى له اسمان څخه اوريدل شوو ويناوو ته سل نور دروغ ورزيات کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8918